# ډاکټر شېر زمان طائزی: ژوند او ادبي زيارونو جائزه

# Dr Sher Zaman Taizi: A Biographical Sketch, And His Literary Works' Analysis

سيد امين الاحسن خوېشکي *

**Abstract:**

Dr Sher Zaman Taizi (Novemer 03, 1931-22 Dec, 2009) stands an unmatched literary figure, contributed richly in various disciplines like translation, short story, playwright, novel writing, research-work, journalism, linguistics and poetry. Initially, he used to write down with pseudonym Ghamjan, later on, started writing with Taizi instead; his family name. Inspired by poetry of Muhammad Deen Moqayyed; a Pashto poet, initially, led Taizi to pen down his first Pashto novel. The acceptance and popularity in the literary circles for the genre, he never looked back and enriched Pashto literature with six multi-faceted novels. Apart from fiction, he wrote plays, short stories, carried out research-work on topics ranging from political movements to linguistics, from journalism to fiction writing and from statecraft to orthography. His most authentic works is his PhD thesis on Sour Revolution of Afghanistan. An attempt has been made in this article to pave the way towards analyzing his literary works briefly. His biography, too, has been touched upon in connection with his various assigned tasks that he accomplished in various capacities. His translations, from, and into, Dari, English, and Pashto also provide his deep understanding of his multi-dimensional personality. He also remained associated with journalism for years wherein he worked greatly for the promotion of Pashto literature and culture.

**Keywords:** Sher Zaman, Taizi, Pashto novel, Translation, Magic Realism, Short Story, Drama.

د نوښارزمکې ته داویاړحاصل دی چې دې د خوشحال خان خټك نه راواخله تردې دمه وخت په وخت لوی نابغه زيږؤلي،روزلي او په خپله سينه کښې خوندي کړي دي.دمزاحمت، شعراوادب،علم او فضيلت، تصوف او تقشف، سيادت او قيادت او نورو فنونو په مېدانونو کښې دې خاؤرې دومره شهسواران د ژوند او فن هر سنګر ته سپارلي دي چې د تاريخ ليکونکي ترې سترګې نۀ شي پټؤلې.

* Regional Deputy Director, Exice and Taxation, Khyber Pakhtunkhwa.

د لنډي سيند په دواړو غاړو پروت دا ښار په خپله لمنه کښې يو خور ور تاريخ او داستان لري چې سوز او ساز هم لري او لطافت او ګداز هم، د تورو شرقا او پړقا هم لري، او د رزم بزم قصې هم لري. په دغه بې مثاله نابغهٔ کښې يو خداى بخښلى ډاکټر شېر زمان طائزى هم دى.

"ناول نويس، مترجم، ډرامه نګار، شاعر، صحافي، محقق، کاتب او منتظم ډاکټر شېر زمان (غمژن) طائزى د مومندو په مشهوره څانګه طائزيو کښې د نوښار پبو کښې د خداى بخښلي کټور شاه کره د نومبر په درېمه په کال نولس سوه يو دېرشم(1931 ع) کښې وزېږېدو.محقق او افسانه نويس ډاکټر خورشيد اقبال خټك د ايريا سټډي سنټر، پېښور يونيورسټۍ، له لوري شائع شوي اهم کتاب سِلبرټيز آف اين ډبليوايف پي (اوس خېبر پښتونخوا) کښې شائع شوې اوږده علمي مقاله'ډاکټرشېر زمان طائزى' کښې د طائزي صاحب د ژوند د عملي هلو ځلو متعلق ليکي چې ' ډاکټر شېر زمان خپل کلي کښې د لسم جمات پورې رسمي سبق وئېلو نه پس د روزګار په سلسله کښې د پاکستان آرمي کور کښې د جنورۍ په پينځلسمه، کال نولس سوه نهٔ څلوېښتم(1949ع) کښې ديوکلرك په توګه د عملي ژوند اغاز وکړو.دغه محکمه کښې ئې د لانس نائيك په عهده د اپريل د اولني تاريخ کال نولس سوه پنځوسم (1950ع) نه تر نومبر نولس سوه درې پنځوسم (1953ع) پورې خپلې فريضې ترسره کړې.دوي د ملازمت زيات وخت په آزاد کشمير،مظفر آباد او ټيټوال سېکټر خواوشا علاقو کښې تېر کړو.بيا په فرنټيئرانټيلي جِنس کور کښې ئې د نومبر په دولسمه، کال نولس سوه درې پنځوسم (1953ع) کښې د حوالدار په توګه تقرر وشو.او په کال نولس سوه اووهٔ شپېتم (1967ع) کښې د کابل د پاکستان سفارت خانه کښې دعارضي اسسټنټ معاون په توګه وټاکلى شو. دغسې دوي د مئي په لسمه کال نولس سوه اووهٔ شپېتم (1967ع) د خارجه چارو وزارت کښې د کابل د پاکستان سفارت کښې د قونصلر سېکشن کښې د جون په نهٔ ويشتم کال نولس سوه اووهٔ شپېتم(1967ع) کښې د اسسټنټ په توګه خپلې چارې شروع کړې".(1)

محترم محقق وړاندې ليکي.

"هم دغه دوران کښې دوي د ستمبر په دروېشتمه کال نولس سوه اويايم (1970ع) کښې د پښتو د ايم اې ډګري ترلاسه کړه. دلته د خپل مقرره وخت تېرولو نه پس د پرېس اتاشي په دفتر کښې دفارسئ ژبې د ترجمان په توګه بيا واخستى شو. دغه تقرر دوي د اکتوبر په اوومه کال نولس سوه اويايم (1970ع)کښې قبول کړو. او د اکتوبر په اوويشتمه کال نول سوه اويايم (1970ع) کښې دوي د فارسئ د مترجم په توګه بيا خپلو هلو ځلو له دوام ورکړو.د فرورئ په وړومبي تاريخ کال نولس سوه اووهٔ اويايم ( 1977ع)کښې دوي د سب

انسپکټر په توګه ریټائر شو. د مارچ په آخره کښې کال نولس سوه نهٔ اویا (1979ع) کښې دوي افغان مهاجرینو د پاره تیار شوي کمشنرېټ کښې اول د رابطه کار افسر په توګه، او بیا د مارچ په وړومبی نېټه کال نول سوه اتیایم (1980ع) کښې د چیف لاېزان افېسر عهدې ته ترقي وکړه او وروستو دمئي په وړومبي تاریخ هم دغه کال دوي د اقوامِ متحده د ذیلي اداري یو این ایچ سي ار کښې دلائزان افسر په توګه خپلو سرګرمیو له دوام ورکړو. څهٔ وخت پس هم دغلته علاقائي یا ټیرېټورئیل افسر شو. د نومبر په دېرشمه کال نولس سوه یو نیوي (1991ع) کښې دوي د یو این ایچ سي ار نه ریټائر شو او هم په سبا له د هغه وخت مشهوره انګریزي ورځپاڼه فرنټئیر پوسټ کښې د اسسټنټ ایډیټر په توګه ئې یو نوی دور شروع کړو. د یو این ایچ سي آر د ملازمت دوران کښې دوي ته په کال نولس سوه اتیا (1981ع) کښې د نوبل پیس پرائز سرټیفیکېټ هم ورکړی شوی وهٔ". (2)

ډاکټر خورشید اقبال خټك پورته ذکر مقاله کښې لیکي چې:

"د پېښور یونیورسټۍ د ایریا سټډي سنټر نه دوي په کال نول سوه نهٔ اتیا (1989ع) کښې د'افغانستان- دثور انقلاب ۱۹۷۸ع- ۸۲ یوه سیاسي جائزه'په عنوان د پي ایچ ډي مقاله ولیکله او د ډاکټرېټ سند ئې ترلاسه کړو". (3)

د افغانستان د معروضي او زمیني حالا تو په ضمن کښې نن هم دغه تحقیقي مقاله ډېر اساسي حیثیت لري.

"د انګرېزۍ ژبې ورځپاڼه' فرنټئیر پوسټ' کښې دوي قریباً څلور کاله صحافتي ذمه دارئ ترسره کړې. دې دوران کښې دوي له پښتو انګریزي ترجمې، او په کتابونو تبصرې کوُلې.دی دور کښې انګریزي لوستونکې طبقې سره د پښتو ادب پېژندګلو وشوه، او پښتو ادب ته ئې په دغه ضمن کښې یو نوی تحریك ورکړو.او د پښتو ډېر زلمي لیکونکي ئې انګریزي لوستونکیو ته ور وپېژندل،د ډېرو د پاره د لارې بل مشال وګرځېدو او ډېر ئې د وخت د تقاضو ته بېدار خبردار کړهٔ. اېس انعام الرحمن د پېښور یونیورسټۍ د پاکستان سټډي سنټر نه د دوي په دغه زیارونو د ایم اې تهیسس لیکلي دي". (4)

چې زما له نظره نهٔ دی تېر.خو طمع لرلې شي چې دغه مقاله به د نن دور ډېر محققین د دغه زرین دور ډېرو اشنا او نا اشنا خبرو سره اشنا کړي.

ډاکټر خټك د طائزي صاحب د نورو علمي او صحافتي ورکړو په باب لیکي:

"د اپرېل په وړومبي تاریخ کال نولس سوه شپږ نوي (1996ع) کښې ډاکټر طائزی د'کارټون'مجلې د'بي بي سي افغان ایجوکېشن ډرامه پروجېکټ نوی کور-نوی ژوند'

ایډیټر وټاکلی شو، چې جان بټ ئې مشروۀ. دغه مجله به په دریو ژبیو انګرېزئ او پښتو، او انګرېزئ اودَري، کښې شائع کېدله. په کال نولس سوه اووۀ نوي (1997ع) کښې د دغه مجلې په بندېز ډاکټر طائزی خپل کور کښې په خپلو ادبي او علمي سرګرمیو کښې مشغول پاتی شو". (5)

خورشید اقبال صاحب خیال لري چې.

"غمژن صاحب د یاد شاعر محمد دین مقید شاعرئ ادب ته مائله کړی وۀ. د دې خبرې تائید سلیم بنګښ هم خپل یو مضمون کښې کوي، لیکي: 'ډاکټر صېب په 1900 ع کښې د نوکرۍ سلسله کښې ټل کي (کښې) وو دا وخت محمد دین مقید هم ژوندی وه (وۀ) ډاکټر صېب د دوي او د شهواس خان شمشېر په مرسته پښتو ادبي چمن ټل په نوم یو ادبي تنظیم جوړکړو شاید چې کۀ طائزی صېب نۀ وی نو دغه تنظیم به نه وه جوړ شوی". (6)

"د ریټائرمنټ نه پس طائزی صاحب د جون په یویشتمه کال نول سوه اووۀ اویا ( 1977ع) کښې د خوشحال ادبي جرګې احیا وکړه، کومه چې یاد شاعرخدای بخښلي اعظم دکړوئ په کال نولس سوه پنځوسم (1950ع) کښې جوړه کړې وه. چې وروستو دوي په کال نولس سوه دوه اتیا (1982ع) کښې د بې بدله محقق او مدون دوست محمد خان کامل په نوم' کامل پښتو ادبي جرګه پېو سیمه' دنورو ډېرو ملګرو په مرسته متحرکه کړه. چې د دوي په ژوند ئې ګڼ کتابونه شائع کړۀ او لا دغه سفر دوام لري.". (7)

پښتو ناول ته د بخښنو ضمن کښې د دوي ناولونه'ګل خان'(1969ع)، 'امانت' (1971ع)، 'رحمان کورونه'، 'غونډی'، او، 'وادۀ ونۀ شو'(1997ع) دي. 'شپېلۍ' د دوي د افسانو مجموعه ده، چې زما له نظره نۀ ده تېره. شاعرئ کښې ئې د'ورشو'او'سوما(1994ع)' په نوم شعري مجموعې شائع دي. 'تیندك'او'ګلپانه' د دوي د ډرامو بیلې بیلې مجموعې دي. د ترجمو ضمن کښې د هاشم زماني د شعري مجموعې 'قطبي خرس ' 'دي پولر بئیر' په نوم له پښتو انګریزي ترجمه ( 1982ع) کښې د دوي د ترجمې او دواړو ژبیو فنکاري ډېره جخته په نظر راځي.

په انګرېزئ کښې 'افغانستان فرام نجیب ټو مجاهدین'Afghanistan from Najib to Mujahidin (دوه جلده)، له پښتو ترجمه' دي پښتون نیشنل انټګریټي The Pakhtuns National Integrity, ،اې کلېش اف انټرسټس،Afghanistan: A Clash of Interests()،دي لوسټ رِنګ اف دي چېن، عباد خان، د انورخان دیوانه د اردو کتاب انګریزي ترجمه (1998ع) The Lost Ring of the Chain,Abad Khan()، د جنرل عمرزئي د'شبهائې کابل' دري نه انګریزي ترجمه' ، 'Nights In

'Kabul'()ناول هنر اوسفر' (2004 ع)()'،'کابل مې بيا وليدو '()سفرنامه /رپورتاژ(2007ع)'له دري ترجمه,'The Bare-foot in Coarse Clothes'،'نره ژبه'

"Rahman Baba:An Outstanding Painter of Thoughts
Afghanistan: Two Governments and Three Capitals"
Bacha Khan in Afghanistan
The Mother Tongue(English Pashto)"(8)

او بې شمېره علمي مقدمې او مقالې.د عبدالرحیم مجذوب په کتاب 'د نور مظهرونه'د دوي مقدمه ډېر علمي حیثیت لري او په دیني علومو د دوي د تقابلي مطالعې يو ښکاره ثبوت وړاندې کوي.

د ډاکټر شېرزمان طائزي رفيق او هم نشين زاهدالرحمن سيفي صاحب ماسره خبرو کښې وائي چې.

"ډاکټر خوږ وۀ،ګڼ اړخيز وۀ،عالم هم وۀ، نو حوصله ئې هم وه،زما ناسته ورسره د کامل پښتو ادبي جرګه په صحبتونو کښې شوې وه.مباحثه به ئې نۀ کؤله. جواب در جواب به ئې نۀ کؤلو.په هپناټزم د بحثونو دوران کښې نتيجتاً 'وادۀ ونۀ شو' وليکلی شو.چې اول د'کړکېچ' په عنوان ډرامه وه. او وروستوئې د ناول شکل بيا موندو.اخري ملاقاتونو کښې ئې وئېل'وخت راسره نشته' او د اخري ناول د شائع کېدو نه وروستو زر په حق ورسېدو'.سيفي صاحب د خپل تحقيق په انداز د هغوي د تربيت او تحقيق ژور اثرګڼي.د دوي په خيال ډاکټر شېر زمان پښتو ادبي جرګه اوس هم ډېر کتابونه شائع کوي. دغه ضمن کښې دوي په د حمزه بابا متعلق انګريزئ کښې د طائزي صاحب د يوغېر مطبوعه کتاب ذکر هم کوي".(9)

د محقق ډاکټر ميا سهېل انشا صاحب په خيال

"اګرکۀ طائزی ادب ته ورستو راغلی وۀ خو بيا په لږ وخت کښې دومره وړاندی لاړو چې دادب په ډېرو شعبو حاوي شو".(10)

دطائزي صاحب زيارونه ددې خبرې ښکاره ثبوت دی.چې په ناول،افسانه،سياسياتو،ترجمه نګارئ،شاعرئ،اوتحقيق يو شان حاوي ښکاري.

د ناول نويسئ نه علاوه چې ډاکټر صاحب د علمي او ادبي کارونو کوم اړخ نظر انداز پاتی دی، هغه د دوي ترجمه نګاري ده .چې دوي له پښتو انګرېزی، اوله دري ژبې انګرېزئ ته وخت په وخت کړي دي.چونکه اکثرو صورتونو کښې د دوي د ترجمه شوو کتابونو اصلي متن تر لاسه کېدل ګران دي ځکه نو د اصلي او ترجمه شوي متونو تقابل او موازنه کؤل ممکن نۀ ښکاري. خو دا خبره ډېره تحقيق طلبه ده د دغه تحقيق حاصل به د دوي د ترجمه نګارۍ په ضمن کښې د دوي د صحيح مقام متعين کؤلو کښې زموږ ډېره مرسته وکړي. پکارده چې زلمي محققين ئې د خپلو تحقيقاتو موضوع جوړه

کړي.له دري نه د جنرل عمرزئي کتاب 'شبهائ کابل'انګريزي ترجمه ئې رواني لري.او ابلاغ پکښې کيږي.او دا هم معلوميږي چې دا ترجمه ده شايد چې طائزي صاحب په شعوري توګه دغه کوشش کړې وي.خو لوستونکی ځان سره روان ساتي. د عباد خان پښتو کتاب چې د انورخان ديوانه صاحب له اردو ترجمې ئې دوي انګريزي کوي، نو هم ژبه ئې ساده او روانه ده،او هغه ادبي چاشني نۀ لري کومه چې د هغوي په نورو ترجمو کښې ښکاري. شايد دوي ترجمه کؤلو کښې ځان د ترجمې فني تعريف ته مقيد ساتلی دی.

"طالبان اېز اسِسډ بائې دي افغان انټلِکچوَلز Taliban:As Assessed by the Afghan Intellectuals" (11)

(ب)(طالبان څنګه چې افغاني پوهانو تجزيه کړي)کښې د دوي ژبه خاص صحافتي،فني اوسياسي ښکاري.دلته د دوي ترجمه زياته پختګي او ثقاهت لري. د مضامينو او ليکنو انتخاب هم -که چرې دوي کړي وي. د مينځنئ ايشيا په سياسي رموزو او فکري تحليل د دوي ګرفت او قابو ښائي.موږ سره پښتو ادب او ليکونکيو کښې داسې د قلم خاوندان د ګوتو په شمېر دي چې په بېن الاقوامي امورو يا په يوه خاصه علاقه او تحريك ژوره سياسي او تاريخي پوهه لري.طائزی صاحب په دغه شخصياتو کښې د سرسړی دی.

احمد علي عاجز خېل کتاب 'پښتو ناول اوناولونه'' کښې ليکي چې.

"ډاکټر شېر زمان طائزی پښتو ادب کښې د جاسوسي ،مهماتي او مافوق الفطرت ناولونو باني ګڼي".(12)

ښاغلي محقق سره جزوي اختلاف کېدې شي.خو واقعي چې ډاکټر صاحب د خپلو منصبي فريضو په اساس هم د تجسس او رمزيت نه ډك مزاج لرلو نو هغه خيال ئې په ناول کښې هم بريښي.رشيد احمد صاحب هم د طائزی صاحب د ناولونو'وادۀ اونۀ شو' او'ګل خان'په باب خيال لري.

" چې د پښتو په غوره ناولونو کښې ئې مونږ حسابوو".(13)

محقق اوخوش بيان مقررمحمد پرويش شاهين صاحب د دوي په کتاب 'سوما'د'سوما او د سوما کروندګر

" ترعنوانه د طائزي صاحب شاعري د'سمسوره ګلونو ډکه باړئ ګڼي. چې د حسن ،مينه، عشق ارمانونه پوهه،ځلا،ښکلا تنها هم لري".(14)

فضل ربي راهي دوي د دغه مجموعې د شاعرئ په بنياد.

"ديوې منفردې لهجې او يومنفرد انداز ښکلی شاعر بلي".(15)

د دوي شاعري په موضوعاتي لحاظ نوې شاعري نۀ ده البته چرته چرته داسې ښکاري چې په شعوري توګه دکلاسيکي او روايتي شاعرئ دامتزاج يو کوشش کوي.چرته کامياب او چرته په جزوي توګه ناکام ښکاري د"کابل مې بيا مې وليدو" شاعري يو زړۀ راښکونکی بيانيه اسلوب لري چې د قصه

ګوئي په مسحورکوونکيو خوبيو مزينه ده. خو د يو همه جهت شخصيت په توګه د دوي شاعري مونږ پښتو ادب کښې ګتوره اضافه ګڼو.د دوي په ناول 'ګل خان 'کښې داسې ښکاري چې دوي په شعوري توګه تخليقي نثر ليکي دا تجربه د هئيت له رويه نوې او تازه بريښي.چې له دوي وړاندې او وروستو په نظر ډېره کمه راځي.منظرنګارئ اوجزيات نګارئ کښې هم دوي پوره کمال لري.کله کله دغه جزيات نګاري د بې ځايه طوالت او په نفسِ مضمون دغلبې ښکار شي.دا دې هم ياده وي چې دوي د انګريزئ د فکشن ډېره ژوره مطالعه لرله. نوپه تطوّر کښې ئې دغه اثر پټ پټ ليدی شي.
ښاغلي ډاکټر حنيف خليل سره 'مخ په مخ 'کتاب کښې د ناول په باب د پوښتنو په ځواب کښې دوي "ناول د داستان ترقي يافته شکل ګڼي ".په پښتو کښې د ناول د نهٔ ليکلو بحث کښې وائي چې 'ناول ليکل صرف ليکل نهٔ دي بلکه يو مرحله وارکاردی چې سوچ، فکر پوهه، مطالعه، مشاهده او وخت غواړي. او دا پښتنو ليکوالانو ته ګرانه پريوځي خو دې لړکښې غټه ستونزه د لوستوالو د نشتوالي ده.

"د کتابونو د چاپ اوګټې آپ باره کښې وائي چې'زما څلورکتابونه بل چا چاپ کړي دي هغه دګټې اپ په لحاظَ بد نهٔ دي او نور ما په خپل خرڅ چاپ کړي دي ،او نهٔ شم وئېلی چې تاوان مې کړی دی کهٔ ګټه".(16)

د طائزي صاحب دغه خبره اوس هم رښتينوالی لري پښتو کښې اوس هم ناول ليکنه د نشت برابر ده. او دا ځکه چې لوستونکي به له کومه راولي؟ د لوستونکيو او ناول ليکونکيو دواړو بدني او ذهني تن اسانئ مونږ له ښهٔ ناول تخليق کؤلو بې برخې کړي يو.په روان دور کښې د خدای بخښلي سعدالدين شپون،حيات روغاني،ډاکټر لياقت تابان،ميا لطيف شاه شاهد کاکا خېل،ډاکټر نصيب الله سيماب،فاروق سرور،عبدالقادر مجرم،ډاکټر زبېر حسرت،مېرمن صفيه حليم،نصير احمد احمدي او ځنې نورو د ناولونه نه علاوه مونږ ته ښهٔ او معياري ناول ډېر په کم په مطالعه کښې راځي.او دغسې په ناول تنقيد او تحقيق هم البته رشيداحمد صاحب 'پښتو ناول (سل کاله)' کښې تر ډېره حده حق ادا کؤنکی ښکاري.د ډاکټر حنيف خليل'پښتو ناول تحقيقي او تنقيدي جائزه هم اهم دی او د يو دوراحاطه کوي خو د رشيداحمد د وړاندې ذکر کتاب نه پس اوس نظرِ ثاني او تجديد غواړي.
خدای بخښلی نقاد او صحافي سليم راز صاحب د طائزي صاحب

"کابل مې بيا وليدو'په مقدمه کښې 'دا نثري ليك د سفرنامې نه زيات رپورتاژ ته نژدې ګڼي. او هغوي د دوي څلورو اړه ليکونه پښتو ادب کښې يو بېش بها اضافه بولي .چې د تخليقي ادب د خوند سره سره د پښتو ژبې، ثقافت، معاشرت، تاريخ او جغرافئې عکسونه او نقشونه هم پکښې فکر و نظر ته رښا ، تازګي او توانائي بخښي".(17)

" کابل مې بيا وليدو" کښې د قندهار او مزار شريف د سفر حالات منظوم او' کابل مې بيا وليدو' او'د لوی خدای ،لوی کور' منثور سفري حالات دي.د قندهار او مزارشريف د سفر منظوم حالات نقل

کؤلو کښې لوستونکیو ته د خدای بخښلي عبدالخالق خلیق کتاب 'زۀ او زما مانه' را یاد شي.دغه منظوم حالات د دوي د شعر پر ګوئي، رواني اوسلاست په ګوته کوي.او یو هېرشوی صنف مخې بیا ته راؤړي.کابل ته د سفر په حقله له نورو مخکښېنو لیکونو نه علاوه ځوان شاعر او محقق فقیر محمد فقیر هم تېروکلونو کښې په نثر کښې د'کۀ کابل جان د چا یادېږي'په عنوان ښه سفرنامه لیکلې ده.
محقق او معلم جمشېد اقبال صاحب ما سره خبرو کښې وائي چې

"د پېبو سره تعلق لرونکې یوې زنانه د ډاکټر شېرزمان د ادبي زیارونو متعلق د پي ایچ ډي تحقیقي مقاله لیکلې ده،صفي الله پرې خپل تحقیقي کارکړی دی،د سوات احمد علي د ډاکټر صاحب په 'سوما کښې رومانویت' په موضوع کارکوي چې لا مکمل نۀ دی.'تکتو' مجله کښې پرې ډاکټر سهېل انشاءاو د ډاکټر یاسین اقبال صاحب خوارۀ وارۀ مضامین وخت په وخت شائع شوي دي. دوي خپله د طائزئ صاحب په ژوند اوفن په انګرېزۍ کښې ګڼ شمېر مضامین په ورځپاڼو فرنټيئر پوست او ډان کښې لیکلي دي.دوي د ډاکټر صاحب متعلق د'ګلپاڼه'او 'تیندك 'په نوم د شائع شوو ډرامو خبره هم کوي.د صحافت ضمن کښې په ورځپاڼه مشرق کښې د طائزئ صاحب شائع شوي کالمونه د'سفېدپوش کټے'په عنوان په مجموعي شکل کښې د شائع کېدو ذکر هم کوي".(18)

ډاکټر خورشید اقبال ماسره خبرو کښې وئېل چې

"د طائزي صاحب په ناولونو ئې تحقیقي او تنقید کارکړی دی خو لا د اشاعت مرحلې ته نۀ دی رسېدلی".(19)

دغه علمي کار به د طائزي صاحب د ناولونو په باب ډېر اهم کتاب وي ځکه چې ډاکټر خورشید نۀ صرف دا چې د دغه ناولونو تنقیدي مطالعه لري بلکه دوي د ډاکټر شېر زمان په صحبتونو کښې هم ډېر پاتې دی نو د دوي په تحقیق کښې به د هغوي د شخصیت اړخ هم برېښي.
مهنازګل بي بي د ډاکټر صاحب د دوه ناولونو' امانت او ګل خان تنقیدي جائزه ' باره کښې د پښتو اکېډیمۍ مجله پښتو ګڼه جنوري-جون ګڼه کال دوه زره اتلسم( ۲۰۱۸ ع )کښې لیکي

"د دوي په ناولونو کښې د قیصې غوندې بنیادي عنصر په داسې فنکارانه توګه راوړلی شوی دی چې جدا جدا واقعات او حادثات د یو ربط او ترتیب سره ئې په خپله لمن کښې رانغښتي دي". (20)

د مهنازګل بي بي تجزیه ډېره قوي ده دډاکټر صاحب د ناولونو کردارونه حقیقي ښکاري او دوي د خپلو کردارونو په ذریعه د خپلو افکارو اظهار کوي.ځکه د دوي کردارونه ډېر زیرك او پوهه ښکاري.
ډاکټر حنیف خلیل هم د دي د ناولونو متعلق دغه خیال لري،خپل بحث کښې دوي لیکي.

"ڈاکٹر صاحب کے ناولوں میں پلاٹ کی چستی۔ اعلیٰ کردار نگاری، خوبصورت منظر کشی، سسپنس اور گہرے مشاہدے کی چھاپ نمایاں نظر آتی ہے"(21)

ډاکټر صاحب خپله ناکافي او جامعه تبصره کښې د دوي د لساني مهارت او برجستګۍ ذکر نۀ کوي. سپېځلې او اولسي ژبه د دوي د ناولونو خاصه ده.او د نورو څو خصوصيتونو او انفراديتونو سره دوي له خپلو همعصرو ناول نويسو منفرد کوي.

"د دوي اهم ناول 'وادۀ ونۀ شو' کښې لکه د عربۍ د مشهور داستاني. اثر 'الف لېله ولېله' د يوې قصې نه بله قصه راؤځي د بين الاقواميت ضمن کښې کۀ دوي د بلخ د رابعه بصري د مقبرې، او د جرمن د ښارونو قصه اوروي. نو د مقاميت ضمن کښې د پېو د لوئې اديرې د کاکړو کندې ،دفقير ايپي او د ګوروېك او د جلال اباد او کابل تر مينځه د نملا مقام ذکر هم کوي. او عجيبه دا ده چې د هر ښار جغرافيه او تاريخ ډېر په تفصيل قلم ته سپاري.چې په ډېر موضوعاتو د دوي وسيعه مطالعه ښائي.د دې ناول مطالعه لوستونکی په دې نتيجه رسوي چې واقعي جادوئې يا طلسماتي حقيقت نګارۍ يا قصه ګوئۍ کښې دوي کمال لري.په تقابلي توګه کۀ دا ناول د هپناټزم يو پسِ منظر لري نو مونږ ورته پښتوکښې د انګرېزۍ د'هيري پوټر'يو پښتو شکل هم وئېلی شو.ځکه چې د'وادۀ ونۀ شو' او د'هېري پوټر' د اشاعت کلونه هم يو دي.وړومبۍ سلسله د'هېري پوټر او د فلسفي کانې' د جون په شپږ ويشتمه کال نولس سوه اووۀ نوي(۱۹۹۷ ع) شائع ده. او د دې ناول د اشاعت کال هم دغه دی.البته دا هم ذهن کښې ساتل دي چې اول کښې دا ناول د ډاکټرميا سهېل انشاء او زاهدالرحمن سېفي په خيال يوه ډرامه وه چې وروستو نور طوالت سره ناول شو.دا ناول د افاقيت سره سره د مقاميت رنګونه هم لري .او د مغلو د جبر او د پښتنو د مزاحمت د سرخېلانو فقير ايپي او عمرا خان جندولي د تحريکونو ذکر هم لري .په ډېرو خوبيو مزين دی ناول کښې د طائزي صاحب نه شايد د'کړکېچ' ډرامې دوران کښې د پېريانو د پښو په شان اوږد ناول شو خو په اخر کښې د انسانانو د پښو په شان ډېر زر او په ډېره جلتۍ خپل اختتام ته رسي.د ناول د کردارونو تحليل کښې مونږ د طائزي صاحب ګنجلك طبيعت هم مطالعه کولی شو، چې هغوي سره يوه ډېره اهمه ، بوږنونکې اوخوروه وره قصه ده خو هغوي ئې د وئېلو د پاره د علامتونو نه کاراخلي.او د ناول کردار سېدان شاه په مختلفو شکلونو کښې بيا بيا وجود مومي او ورته د خپلو پټو صلاحيتونو ادراك نۀ کيږي.د دې ناول په حق له دوي خپله 'ناول هنراوسفر' کښې ليکي'(داناول) 'جاسوسي هم دی،مهماتي او وېرونکی هم،ورسره ورسره سياسي او

تاریخي سکوندارۍ په کښې هم شته او د ځینو سیمو جغرافیائي خدوخال هم ښائي خو د ناول اصل موضوع تونه ټاپه ده". (22)

څنګه چې د'ګل خان'ناول متعلق اکثر شارحین او مبصرین رائې لري چې د پښتنو په خاؤره د خورو ناپوهۍ د رسمونو خلاف یو دردېدلی او باخبره اواز دی.خو دا ناول یو تصوراتي نړۍ او خیال نۀ لري بلکه د خپلې خاؤرې سره جخت او تړلی تړون لري. د لنډي سیند په غاړه د ژوند نقشه پېش کوي چې د مقامیت په رنګ کښې رنګینه. ښکاري او بیا د خور جهالت د ختمؤلو د پاره د پښتون صوفي رحمان بابا له افکارو خوشه چیني کوي. د ناول ژبه تخلیقي او اولسي ده. یو ځای د بوټو دا قسمونه ذکرکوي'دیار، کاچلو، سرۀ، سرپ، کنډل، برج، رنځړۀ، شاټ، خاؤنۀ، ټیټاك، اوځېرځنګلونه 'ورکشویا وهېر شوي لفظونه د اسېر انغاړي، 'پارچاؤ، غُلی، مېفر، ګوره، بېګر، شرغشي، راموسی، انګرکائي،لوئښټ، شامه، بیتلی او نور بلها ډېر،دا د دوي په ژبه ګرفت او قابو ښائي. قصه ئې ډېره رواني لري.او دلته هم قصه ډېره په تندۍ خپل انجام ته رسي. بله ناشنا خبره دا ده چې پېښور کښې مېشتۀ هندکو ژبې وئیونکي هم د خپلو کردارونو برخه جوړوي چې زما په خیال بل کوم ناول نویس داسې نۀ دي کړي. او ځای په ځای د هندکو څو جملې د ناول لمنه نوره هم خوروي. په نورو ناولونه بحث ئې مونږ بل کوم وخت ته پرېږدو.

'په پښتو ناول کښې د ټولنیز(سماجي) شعور'ترعنوانه مقاله کښې رشیداحمد صاحب د طائزي صاحب ناول 'ګل خان' متعلق لیکي:

"'ډاکټر شبېر زمان طائزي په پښتنه ټولنه کښې موجودې کمزورۍ په خپل ناول'ګل خان 'کښې په ګوته کړي دي او د هغې حل ئې هم ښودلې دی د پښتو په اتحاد ئې زور راؤړی دی". (23)

"رشیداحمد صاحب بل ځای دا ناول 'په یولحاظ رومانوي ناول'هم خیال کوي.اګرکۀ د رومان عناصر لري خو په کلي توګه ورته مونږ شاید روماني ناول ونۀ وئېلی شو ځکه چې غالب تره موضوع ئې د ضد او ناپوهۍ خلاف د پوهې او جوړ جاړۍ اواز پورته کؤل دي"(24).

"ډاکټر شفیق احمد ختك او احمد ریاض شاهد د'کامل ملګري-(۲۰۰۹ع)' سریزه کښې تردغه وخته د ډاکټر صاحب د دوه کم څلوېښتو، پنځلس پښتو کښې، او نور انګرېزۍ کښې ذکرکوي.د طائزي صاحب د فکشن سفر ختم نۀ دی بلکه د هغوي زوی ریاض شاهد طائزی افسانه لیکي او د'اخر تر څو؟'تر عنوانه ئې د افسانو مجموعه شائع ده.افسانه ئې په موضوعاتي توګه عمومیت لري.او ترې د نورو ښو افسانو لیکلو طمع کېدې شي". (25)

پورته ذکر مرتبین لیکي چې.

"په ۲۳ مارچ ۲۰۰۹ ع کښې ډاکټر شېرزمان طائزي ته صدارتي اېوارډ تمغهٔ امتياز ورکړی شو". (26)

"ناول هنراوسفر' کښې دوي په لنډه توګه د ناول هئېت او ساخت باندې خبرې کوي او بيا د پښتو ناول متعلق جامع بحث کوي.دا په اصل کښې يوه مقاله وه چې د پښتو اکېډيمۍ د يو ادبي تقريب د پاره ليکلې شوې وه خو د څهٔ وجوهاتو په بنا اورؤلې شوې نهٔ وه او بيا د دی لنډ کتاب په شکل کښې شائع شوه ().په درېو پنځوسو مخونو خور دا وړوکی کتاب د پښتو ناول ټوله احاطه خونهٔ کوي ولې يو اجمالي بحث ضرور اجرا کوي.په يوځای کښې دوي د خدای بخښلي پريشان خټک درائې سره اختلاف لري چې ګوندې 'پښتو ناول تر يو وخته په ځای ولاړ پاتی دی' دوي ليکي چې 'پښتو ناول په ډېره لږه موده کښې ډېره په تېزۍ سره وده موندلې ده او يو شمېر ډېر معياري او د ناول په فن پوره ناولونه پښتو کښې وليکلی شو'. (27)

د شفيق احمدخټک کتاب د'ډاکټر طائزي دکتابونو تنقيدي جائزه' به هم تر يو حده د طائزي صاحب د علمي او ادبي کارونو يوه جامعه جائزه زمونږ مخې ته راؤړي او د اخذ او اکتساب ذريعه ثابتېدې شي.د دې کتاب مشمولات زما له نظره نهٔ دي تېرخومصنف ئې ما سره محض يو عکس شريك کړی دی.

خاکه نويس، صحافي او محقق ګل محمد بېتاب خيال لري چې.

"طائزي صاحب په ثقافتي موضوعاتو ښهٔ ناولونه ليکلي دي،او پکارده چې دغه له ئې دوام ورکړی وې ځکه چې په دغه موضوع ليکلي ناولونه ئې ډېر بهترين دي. خوځه، د'وادهٔ ونهٔ شو'په شکل کښې ئې يوه نوې تيره کېښوده. دوي وائي د طائزي صاحب په باب عجيبه دا وه چې کتابت به ئې هم په خپله کؤلو،اوکله چې دکمپيوټر طباعت راګډ شو نو شايد دوي وړومبی سړی وهٔ چې هغه ئې هم زده کړو او کار ئې پرې شروع کړو.دوي وائي د خدای بخښلي اجمل خټك په پبو کښې د تدريس دوران کښې طائزی صاحب د هغوي رسمي شاګرد پاتی وهٔ،د ځنو لوستونکيو په خيال د دوي انګريزي ترجمې ګنجلکې دي خو د دوي لوی کمال دا وهٔ چې په لږ رسمي علم دوي ښه انګريزي ليکله.دوي د خپلو کتابونو ډېره برخه مقامي کالج ته هديه کړې وه.بيا بيا غمونو ئې د عمر اخري برخه کښې صحت ډېرزورلی وه"(28)

محقق او اديب فرهاد محمد غالب ترين د دوي د فن او شخصيت متعلق رائې لري چې.

"طائزی د پښتو هغه ناول نګار دې چې پښتوکښې ئې د اردو د سلسله وارې ناول نګارئ په شان يوکوشش متعارف کړی دی .ډاکټرصاحب هرکار ډېر په حزم او احتياط،ذمه دارئ او اخلاص سره کړی دی.مېلمه دوستي، مهرباني،کسرنفسي، او انکساري د

هغوي خاصه وه، غرور او لوئي او نام نمود چرته د هغوي په شخصيت کښې نۀ دي ليدی شوي.او ځکه ئې خپلو کارونو له اهميت نۀ ورکؤلو،د نورو د کارونو به ئې حوصله افزائي او ستائنه کؤله.'گل خان' کښې منظرنگاري او اولسي ژوند ډېر ښۀ وړاندې کوي".(29)

ډاکټرشېر زمان طائزي نۀ صرف دا چې د ادارو هومره کار په يوازې ځان کړی دی. بلکه اداره ئې هم روانې ساتلې دي.داسې رجحان ساز او شخصيت ساز وگړي د خپلو علمي کارنامو په زور تل ژوندي وي. د تاريخ تعصب او جبر، او د متعلقه خلقو نظراندازکؤل د دوي په شخصيت خاؤرې نۀ شي اړؤلې.د دوي د فن او شخصيت مطالعه لوستونکي حېران کړي چې څنگه سره د ژوند د تودو سړو،او هلو ځلو دوي ادب ته دومره ورکړې کړي دي او د نن محققينو ته د هغې احاطه کؤل هم ممکن نۀ دي.داسې سپين سپېځلي او خالص مخلص تل د قام ځوان فکر ته په تيارۀ تيارۀ لارو کښې لکه درڼو ډيوو بليږي.پکار ده چې د هغوي د فن سطحي مطالعو په ځای سنجيده او په سائنسي بنيادونو ولاړې مطالعې وشي چې د هغوي پېغام په صحيح توگه قام ته ورسي او د مرام په لوري مزل نور هم ژوندی اوگړندی شي.په گورئې نور.

# حوالې

(1) ډاکټر،طورو،پروېزخان،ډاکټر، مروت،فضل الرحيم سلبرټيزآف اېن ډبليو اېف پي،پاکستان سټډي سنټر،يونيورسټي اف پشاور.نيو اعوان پرنټرز،۴۳-اېن انډسټرېل اسټېټ، حيات اباد ،پېښور،داشاعت کال نۀلري،مخ ۴۵۵

(2)هم دغه

(3) هم دغه

(4) هم دغه

(5) هم دغه

(6) بنګښ،سليم ،'ډاکټر شېرزمان طائېزی' مشموله ليکنې(درې مياشتنۍ) جلد نمبر۱،پښتو اکېډمی،بلوچستان،کوټه،جولائي ۲۰۱۴ع

(7)سليبرټيز آف اېن ډبليو اېف پي جلد اول، دوېم

(8)د'ناول هنراوسفر'په شامخ دشائع شوو کتابونوفهرست

(9)زاهدالرحمان سيفي صاحب سره په ټيليفون زماخبرې ،۱۵ فروري.کال ۲۰۲۲ع

10)ډاکټر مياسهېل انشاء صاحب سره زما بالمشافه خبرې ۱۵ فروري کال ۲۰۲۲ع

Dr,Taizi,Sher Zaman,Taliban:As assessed by the Afghan Intellectuals,Area Study 11 Centre(Russia,China& Central Asia),University of Peshawar,January,2007.

(12) پښتو ناول اوناولونه(تحقيق اوتنقيد) احمد علي اسير،يونيورسټي پبلشرز،۲۰۱۳،مخ نوي ۹۰

(13)دپښتو ناول په وده کښې دمېرمنو برخه،پښتنې ناول نګارې اودهغوي ناولونه رشيد احمد ،پښتو اکېډيمی کوټه کال ۲۰۱۸ع،مخ ۳۸،۳۷

(14) ډاکټر،طائزی،شېرزمان،سوما ،اورکزئ پرنټرز،پېښور،شعېب سنزپبلشرز،بکسېلرز،جي ټي روډ ،مينګوره سوات،جنوري ۱۹۹۴ع مخ ۹

(15) هم دغه،مخ دولسم

(16)خليل،حنيف،مخ په مخ(ادبي شخصياتوسره مرکې)،دانش کتاب خانه ډهکي نعلبنديپېښور،ستمبر ۱۹۹۹ع مخ ۷۶

(17)کابل مې بيا وليدو،طائزی په حېث داديب او دانشور،سليم راز مخ دولسم

(18) ماسره دجمشېد اقبال خبرې، ١٤ اپرېل.٢٠٢٢ع
(19) ماسره دډاکټر خورشید اقبال خټك بحث
(20) ګل ،مهناز، دډاکټر شېر زمان طائزي دناولونو ګل خان اوامانت تنقیدي جائزه.مشموله پښتو،جنوري-جون کال ٢٠١٨ع،پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي،پېښور
(21) خلیل،حنیف،پشتو زبان وادب کې تاریخ ،طبع سوم،اعراف پرنټرز افس نمبر ٢٢٤،ندیم ټرېډ سنټر محله جنګي پېښور.ادب محل سټي ټاور،کابلي بازار پېښور، مارچ ٢٠٢١ع مخ ٢٥٧
(22) ناول هنر اوسفر مخ ٤٥
(23) احمد ،رشید ،په پښتو ناول کښې ټولنیز (سماجي) شعور، ،مشموله،دپښتو ژبې،ادب اوکلتور فکري اوتخلیقي یون له نائن الېون وروسته،پښتو اکېډیمي بلوچستان کوټه کال ٢٠١٩ع، مخ ١٥٢
(24 ) احمد ،رشید ،پښتو ناول سل کاله، ، ضیاء سنز پرنټرز،پېښور،٢٠١٥ع ،مخ ١٤٢
(25) کامل ملګري تدوین اوترتیب ډاکټر شفیق احمد خټك اواحمد ریاض شاهد ،کامل پښتو ادبي جرګه پبو سیمه،ښاریه اوتحصیل پبو،ضلع نوښار،پښتونخوا،٢٠٠٩ع مخ څلورم
(26)ب)طائزی،شاهد ،ریاض،احمد ،اخترڅو؟ډاکټر شېرزمان طائزي پښتو ادبي ټولنه پبوسیمه،ضلع نوښار،کال ٢٠١٧ع
(27) ناول هنر اوسفر،ډاکټر شېرزمان طائزی
(28) ګل محمد بیتاب سره زما مرکه ٢٤،اپرېل،٢٠٢٢ع
(29) فرهادمحمد غالب ترین سره زما مباحثه،٢٥،اپرېل،کال ٢٠٢٢ع.